سلطان جان کلیوال
۲۰۲۳/۰۷/۰۶

# دم شوې اوبه!

## (مشاعره)

« تا نه مې د زړه د صبریدو اوبه دم کړېدې
مـور راته په شـپږو کلــمو، اوبه دم کړېدې»

پلارته مې ورکړېدې ځابنتونه د جومات مُلا
هم راته پاچا صاحب د څښــو، اوبه دم کړېدې

ته دی خپه نه یی نور به مخې ته هم نه درځم
ما د خپــلې لار د بـد لیــدو، اوبــه دم کـړېدې

ډکه چې ستا لاره د ژوندون شی د ګلونو نه
ما درتــه د ګلــو په اوبـو، اوبــه دم کــړېــدې

پریږده چې زه هم له تانه صبر لکه ته شـمه
ځانتــه مې د تـولـو ګودرو، اوبه دم کـرېـدې

نور به جادوګره بنـکلا و نه کړی اثر په ما
ما مې د خپل عـمرپه سـلګو، اوبه دم کړېدې

نورې چې په شوراو په ژړا له کوره ونه وځې
ما د تـول وطـن د دریـابـو، اوبه دم کړېدې

هرڅاڅکی اوبه چې شی دارو د کلیوال د رنځ
ځکه مې د غـرو په پینــتنو ، اوبه دم کړېدې

جولای/۲/۲۰۲۳
ایجکس – تورنتو – کاناډا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په څير و لولئ